**ډیموکراسي او تش خیالونه**




**خبر:**

د اسلام آباد د مرکزي سیمې مرستیال کمیشنر مشتاق احمد، د اسلام آباد له سوداګری خونې او صنایعو څخه لیدنه وکړه او د ۲۰۱۸م درې ورځني پسرلني ننداړتون د جوړه ولو په اړه یې سوداګریزې ټولنې ته معلومات ورکړل، چې نوموړی پسرلنی ننداړتون به په اسلام آباد کې د اپرېل پر ٦مه پیل شي.

مشتاق احمد وویل، چې په دې درې ورځني ننداړتون کې به د ګالا کورنۍ(Family Gala) اثار، خوراکي توکي، د ماشومانو د لوبو، د اوبو سپورټي سیالۍ، بایسکل چلوني سیالۍ، د ګلانو ننداره، رسامي او هنري اثارو په ګډون نور بېلابېل تفریحي توکي ننداړې ته وړاندې شي.

نوموړي وویل، چې د جناح په څېړنیز مرکز کې به د ټنګ ټګور لپاره یوه غونډه ونیول شي او د اپرېل پر ۸ مه به د شالیمار په لوبغالي کې د کرکیټ نړیوال سازمان(ICCI) په مرسته د ځانګړو کسانو له لوري د کرکیټ سیالۍ ترسره شي. نوموړی هیله من و، چې د زده کوونکو د انصاف فدراسیون (Insaf Student Federation) به هم د سوداګریزو چارو په پرمختګ کې د پام وړ مرسته کوي او زیاته یې کړه، هڅه به وشي چې دغه فدراسیون ته هر

کال په دوامدره توګه په دغو نندارتونونو کې برخه ورکړل شي. دغه نندارتونونه به له يوې اونۍ تر دوو اونيو پورې يا هم تر دې زيات وغوځول شي. ( سرچینه: The National News 29/3/2018)

**تبصره:**

اوسمهال په پاکستان کې ډېرى خلک د ګازو او برېښنا له کمښت سره مخ دي او ډېر نور بيا د څښاک پاکو اوبو ته لاس رسی نه لري. عامه صحي خدمتونو ته لاسرسی کم رنګه دی او د خصوصي صحي خدمتونو بيه لوړه ده. دغه راز د عامه او خصوصي تعليمي ادارو په اړه د ماشومانو کورنۍ اندېښمنې دي. د ژوند لګښتونه زيات دي او له امله يې د بې وزلۍ کچه دومره عامه شوې، چې له بې وزلۍ څخه د وېرې له امله له کورنيو څخه د ماشومانو د وژنو راپورونه اورېدل کېږي.

په ورته وخت کې ټاکنې هم د مې په مياشتې کې ترسره کېدونکې دي او ټاکل کېدونکي کسان معلوم دي، چې تر ټولو ناوړه کسان دي. وروستی لرې کړل شوی صدراعظم نواز شريف د فساد له تورونه سره مخ دی او د تلويزيون پر مخ په ورځنيو ډرامو کې د اوسني نظام نيمګړتياوې ننداري ته وړاندې کېږي. په ټولنه کې د ډېرو کسانو له لورې عادي سياستوالو ته د مفسدينو په سترګه کتل کېږي. ان په تېرو ټاکنو کې له تحريک انصاف ګوند څخه د « نوي پاکستان» د ليدلوري تمه کېده، خو له نورو سياسي ګوندونو څخه د غړو په راجلبولو سره دغه ليدلوري کم رنګه شو، ځکه د دغو غړو لويه برخه فرصت طلبه ده.

ډېر څه لا داسې هم شته، چې بايد په اړه يې غبرګون وښودل شي او د پاکستان په اړه فکر وشي چې په کوم لوري روان دی.

د پاکستان د سوپر کرکيټ اتحاديي د مارچ ۲۳مې دفاعي ورځې له سياليو او د آزادې موسيقۍ د کانسرټونو له لمانځنې وروسته، اوس په مرکز کې د پسرلني نندارتون په اړه چمتووالی نيول کېږي.

داسې برېښي، چې ډېر خلک له ټولو تشويشونو، غمونو او ناوړه خبرونو څخه په تېښته کې وي، خو دغه يې وخت دی، چې په ريښتينې توګه را پاڅو او د واقعي بدلون په اړه فکر وکړو. اوس هغه وخت راغلی، چې د

پاکستان د واقعي ثبات ټینګښت او نیکمرغۍ ته د رسېدو په اړه فکر وکړو؛ نه دا چې په بلې احساساتي کړنې لاس پورې کړو.

دا په داسي حال کې ده چې موږ پوهیږو، دومره وړتیا شته چې د خلکو لپاره د بسنې وړ، غلې او دانې وکرو او له طبعي کانونو څخه پوره انرژي تر لاسه کړو. د پاکستان پوځ د نړۍ یو له سترو پوځونو څخه دی، چې د اټومي وړتیا ترڅنګ د ډېرو، ګازو او سروزرو کانونه هم لري. ډېرى خلک مو د ځان ژغورنې هڅې کوي یا هم پر پېښو سترګې پټوي.

د پاکستان پیاوړتیا یوازې د ریښتینې پلان پر اساس پېژندل کېدای شي، چې له مخې یې ناکامه دیمکراټیک نظام ته د پای ټکی کېږدي، ثابت او منظم بدیل رامنځته کړي. هغه بدیل یو طبعي نظام دی، پر نبوي طریقه اسلامي خلافت، چې له اسلامي عقیدې څخه سرچینه اخلي. د تاریخ په اوږدو کې دغه نظام، امت د بشر د یوه رهبر په توګه له ریښتیني دریځ او ویاړ څخه برخمن کړی او دغه یوازېنی نظام دی، چې پاکستان به له نني وېرجن حالت څخه را وباسي.

د امت د ستونزو حل واقعي معیارونو ته اړتیا لري. د تشو خیالونو او دیموکراسۍ له لارې ستونزو ته حللاره موندل د واقعي معیار ښکارندویي نه شي کولی. راځئ! له ځانه وپوښتو، ایا تر دې دمه خیالونو او دیموکراسۍ مو ستونزې حل کړي؟

**د حزب التحریر مرکزي مطبوعاتي دفتر ته**

**۲۰۱۸م، د افرېل ۳ مه**

**لیکواله: نازیه رحمن**

**ژباړن: افغان بادشاه**